د UVMMC څېړونکي د ټپي شويو سرتيرو او ملکي وګړو لپاره د خوندي درد مديريت ارزوني ملي مطالعې سره يوځای کيږي.

د Vermont پوهنتون څېړونکي د روغتون څخه دمخه د درد د آراملو مداخلي (PAIN) آزمايښت کې برخه اخلي کوم چې د Pittsburgh پوهنتون لخوا ترسره کيږي او د دفاع وزارت لخوا مالي تمويل يې کيږي. څېړنه د دوه درملو اغيزمنتوب او خونديتوب پرتله کوي چې معمولا په سرتيرو او ملکي وګړو کې د ټپي کيدو وروسته د درد درملني لپاره کارول کيږي.

ددې دواړو درملو څخه يو يې Fentanyl دی، چې افين يا ترياک دي، او ټيټ دوز لرونکی Ketamine، چې دا بيهوشي ده. دا څېړنه چې د 2024 په مني موسم کې پيل کيږي د Daniel Wolfson لخوا رهبري کيږي، MD (طبي ډاکټر)، د بيړني درملو اسوسيټ پروفيسور، Ajai Malhotra، طبي ډاکټر، د جراحی پروفيسور او د صدماتو طبي رئيس په UVMMC کې د I-کچې صدماتو مرکز مشر.

همدا اوس، دواړه درمل عموما په Vermont کې د روغتون څخه دمخه د خدماتو چمتو کونکو لخوا کارول کيږي ترڅو د ټپي کيدو وروسته درد کم کړي. په هرصورت، موږ لا تر اوسه نه پوهيږو چې کوم درمل د درد په کمولو کې ډير اغيزمن دي او د ناوړه يا خطرناکو اړخيزو اغيزو په مخنيوي کې خوندي دي. څېړنه به د دې پوښتنو په ځوابولو کې مرسته وکړي او همدارنګه په ساحه کې د ټپي شويو سرتيرو او د ورمونټ پوهنتون اشخاصو په ګډون د عامو خلکو لپاره به ګټور وي. دا مطالعه د هغو مطالعاتو يوه لړۍ ده چې د دفاع وزارت لخوا تمويل شوي د صدماتو او بيړني خدماتو (LITES - www.litesnetwork.org) شبکې له لارې د کلينيکي تمرين لارښودونو خبر رسولو او د صدماتو ټپونو پاملرنې لپاره موجوده معيارونه تازه کوي.

”Fentanyl معمولا د صدماتو لرونکو ناروغانو کې د درد درملنې لپاره کارول کيږي مګر کولی شي د اکسيجن کچه او د وينې فشار ټيټ کړي، په احتمالي توګه د ټپي شوي شخص حالت خرابوي او ځينې وختونه د تنفس ټيوب ته اړتيا لري. د اوږدې مودې افين يا ترياک انحصار خطر هم شتون لري. د ټيټ دوز ketamine د درد په اداره کولو کې اغيزمن دی او ممکن د افينو يا ترياکو سره تړلي خطرونه کم کړي، مګر کيدای شي د جانبي عوارضو لکه وهمونه، اضطراب، او د جلا کيدو احساس رامنځته کړي،“ ډاکټر Wolfson وويل. دا ستونزه په پوځ کې په لويه کچه ده. ”موخه دا ده چې له اردو سره مرسته وشي ترڅو زموږ د ټپي شوي پرسونل لپاره غوره پاملرنې خدمات چمتو کړي، د درد کمولو لپاره د خورا اغيزمن درمل په ټاکلو او همدارنګه هغه يو چې لږ تر لږه زيانمنونکي لنډ او اوږد مهاله اړخيزې اغيزې لري.“ ډاکټر Malhotra زياته کړه.

مطالعه به په متحده اياالتو کې د دولسو لويو اکاډميکو طبي مرکزونو څخه شاوخوا 1000 ټپي شوي ناروغان په مطالعه کې شامل کړي چې د LITES شبکې برخه دي. دا ګډون کوونکي ناروغان به په تصادفي ډول د ټپي کيدو وروسته د درد کمولو لپاره يا هم Fentanyl او يا ټيټ دوز لرونکي Ketamine ترلاسه کړي. ټول ګډون کوونکي ناروغان به د درد د کمولو اغيزمنتيا او لنډ او اوږدمهاله اړخيزو عوارضو په پار په پوره دقت سره تر څارنې لاندې ونيول شي. ”Ketamine او Fentanyl دواړه دمخه په Vermont کې د بيړني طبي خدماتو لخوا د درد مديريت لپاره د معياري درملنې په توګه کارول شوي دي. دا څېړنه به موږ سره مرسته وکړي ترڅو دا په ګوته کړو چې کوم درمل د خطرونو کمولو پرمهال غوره پاملرنه چمتو کوي،“ ډاکټر Wolfson يادونه وکړه.

هرڅوک کولی شي د څیړنې ټیم سره په 1-800-664-0557 شمیره باندې اړیکې نیولو له لارې د مطالعې څخه ځان بهر کړي یا د PAINStudy@edc.pitt.edu بریښنالیک ته د "د PAIN په مطالعه کې ګډون نه کول" لیږلو له لارې ځان له څیړنې څخه بهر کړي. د نورو معلوماتو لپاره www.ClincialTrials.gov ته ولاړ شئ او NCT05437575 ته مراجعه وکړئ. د ورمونټ پوهنتون اشخاصو لپاره دا مهمه ده ترڅو پوه شي چې د څیړنې څخه بهر کیدل غوره کول به ټیپي شوي ناروغان د پاملرنې معیار سره سم د درد درملو ترلاسه کولو مخه ونه نیسي، یوازې په مطالعې کې د نوم لیکنې څخه.

دا څیړنه د دفاع وزارت د DoD د W81XWH-19-F-0539 W81XWH-16-D-0024 تړون لخوا ملاتړ کیږي. په دې موادو کې څرګند شوي نظرونه یا سپارښتنې د لیکوالانو نظرونه دي او اړینه نه ده چې د دفاع وزارت نظرونه منعکس کړي.